**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۲/۱۳

# تازه مو پریښي دي،

## روان یو په ورستو پسې ځو

په زړه، په مینه مو پوره نه کړه، په شتو پسې ځو
ګل ګلستان پریږدو، بېدیا ته په ازغو پسې ځو

د نا پوهۍ او جهالت خپسه پریوتې پر موږ
کور نعمتونو څخه ډک، خو موږ پیرزو پسې ځو

د نور عالم ننداره وکړه چې پر کومه درومي
موږ پوهه پریښې ده، روان زړو کیسو پسې ځو

لکه ړانده د لار، بې لارې توپیر نه شو کوی
تازه مو پریښي دي، روان یو په ورستو پسې ځو

موږه نړۍ ته له یو ډیر واړه سوري نه ګورو
پوهې تدبیر ته مو شا کړې، په جذبو پسې ځو

خپله مو کړي نه بل چا، چې اور او وینو کې یو
سیخه لار پاتې ده، روان یو په کږو پسې ځو

که اوښان نه وي کجاوې په خپله تلای خو نه شي
کاروان مو پریښی دی، روان یو کجاوو پسې ځو

ښیګڼه لاړه مروره شوله نور نه راځي
دا څه راوشول چې ښه پاتې تیروتو پسې ځو

په ټول تاریخ کې مو سر لوړ و هسکه غاړه وو تل
نا څاپه څه تندر را پیښ، چې خمیدو پسې ځو

داسې یوه ورځې څه ونه شول چې شکر وکړو
شاکر خو نه یو، سر ګردانه اسویلو پسې ځو

نور عالمونه قسمتونه بدلوي روان وي
موږه خوله پټې یو، اسیر یو، قسمتو پسې ځو

د پوهې زور ته تندرونه هم خپل سر ټیټوي
موږه تقدیر ته یو تسلیم او تندرو پسې ځو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د غنې تار باندېې تېرو او د باد مخې تې ړدو
ژوند مو هوا ته دی سپارلی، تقدیرو پسې څو

ځای پر ځای ناست یو حرکت او خوځون نه لرو موږ
لاس مو اسمان ته دی نیولی، بیا شملو پسې څو

منډې وهو په هغه څه پسې چې هیڅ هم نه دي
خپل ویاړ مو پریښی دی روان یو په خازو پسې څو

ګورئ را وګرځئ غلته ده چې ځئ ورپسې
تاسو پوه نه یئ، اوس روان یو توطیو پسې څو

د مچ د سر په اندازه هم عقل نه شته موږ کې
هم سوله غواړو، هم روان یو مردکو پسې څو

زه به هم غلی شم د تاسو په څیر غلی به شم
خو تاسو پوه شئ چې موږ څو، تبا کیدو پسې څو

نور به هم پاتې تمدن او پرمختګ ځینې شو
د وړاندې تګ فکر مو پریښی، اندیښنو پسې څو

زړګی مې وچاود له دې خلکو او دې فکر سره
نور وړاندې درومي، موږ په تیرو زمانو پسې څو

۲۰۱۷/۱۱/۰۸
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ